فراه علمي-څېړنيز ژورنال
**۱۴۰۳ هـ ل کال، پسرلنۍ لومړی ټوک، دویمه ګڼه**
مخ: ۲۲۵-۲

# د استاذ ګل‌پاچا الفت په آثارو کې د هغه د نړۍ‌لید شننه او سپړنه

پوهنیار محمدحسین میاخېل[۱]، پوهنیار شریف الله ملال[۲]، پښتو ژبې او ادب څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، فراه لوړو زده‌کړو مؤسسه.
**ایمېل:** mh.miekhel@gmail.com

## لنډیز

دغه څېړنه د استاذ ګل پاچا الفت په آثارو او افکارو کې د هغه د نړۍ‌لید روښانه کولو ته ځانګړې شوې. ارواښاد استاذ ګل پاچا الفت د پښتو ژبې او ادب په معاصرینو کې یو نوموتی ادیب، مفکر، سیاستوال او برلاسی لیکوال ګڼل شوی‌دی، د هر لیکوال او ادیب په افکارو کې د هغه د نړۍ‌لید په محور مفاهیم څرخېدلي وي، نړۍ‌لید د کائیناتو د خلقت په هکله د یو چا د باور او عقیدې څخه بحث کوي او د هغه په هغه مفکورې پورې اړیکه مومي، چې د بشري ټولنې د رهبري کولو په موخه وربانديې باور لري، ستونزه دا ده، چې د دې برخې تر روښانه کولو پرته د یو مفکر، ادیب او سیاستوال موخې نه څرګندېږي، که څېړونکي د هر دغسې شخص، چې ټولنې ته یې د ځانګړې یا ټولنیز ژوند د آرونو او اصولو په هکله افکار وړاندې کړي وي، افکار تر شننې لاندې نیسي، نو تر نورو خواو یې لومړی باید د نړۍ‌لید شننه وشي، د دې موضوع ارزښت په دې کې دی، چې د یو مشهور لیکوال، ادیب او مفکر نړۍ‌لید په کې جوتېږي، د څېړنې موخه دا ده، چې د استاذ الفت د افکارو په رڼا کې د هغه نړۍ‌لید څرګند او د فن او فکر اساسي محور یې لوستونکو ته په ګوته شي، دغه څېړنه په کتابتوني ډول او تشریحي میتود ترسره شوې، چې په کې د ارواښاد استاذ الفت نړۍ‌لید د هغه په منثورو او منظومو آثارو کې پلټل شوی دی او د ده په افکارو کې موندل شوي‌دي، چې نوموړی د اسلامي نړۍ‌لید خاوند او د دې نړۍ‌لید د ترویج او غوړېدا تر څنګ د دې فکر د تحکیم ګټې، د بشریت د خیر یوازینۍ لاره ګڼي.

**کلیدي ویېونه:** استاذ الفت، ادیب، لیکوال، مفکر، نړۍ لید.

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
**۱۴۰۳ هـ ل کال، پسرلني لومړی ټوک، دويمه ګڼه**
مخ: ۲۲۵-۲

**سریزه**

اروابناد استاذ الفت د پښتو ادب په پنځو نوموتو ستورو کې يو ځلانده ستوری ګڼل شوی، استاذ د خپل وخت يو ښه عالم دين، د پوهنتون استاذ، برلاسی ليکوال، ښه شاعر او نقاد او د سياست په برخه کې د يو خدمتګار او بيدارګر په مقام کې پاتې شوی شخصيت دی، د مسئلې بيان او د څېړنې ستونزه دا ده، چې څه ډول چې په کار و د استاذ ګل پاچا الفت په افکارو او اثارو شننې او بحثونه شوي وای، هغسې نه دي شوي، د يوې ټولنې د پرمختګ لپاره د ټولنې د سترګورو اديبانو او مفکرينو افکار او موندنې بايد په بنسټيز ډول تر څېړنې لاندې ونيول شي او له ګټورو برخو يې ګټنه وشي، د اروابناد استاذ الفت په هکله د هغه د ژوند او زده‌کړو او آثارو په هکله مختلفې ليکنې شوي دي، مګر د هغه د نړۍليد په هکله زما مخې ته تر اوسه کومه څېړنه نه ده راغلې، د دې سکالو د شننې لامل همدا و، چې په دې برخه کې ځانګړی څېړنيز کار نه وو شوی، نو غوره، چې د استاذ د افکارو د محور د موندلو يا نړۍليد روښانه کولو په هکله د هغه په آثارو کې که د نظم برخه ده او که د نثر؛ په دې هکله څېړنه سرته ورسوم.

د دې څېړنې ارزښت دا دی، چې د پښتو ادب د يو وتلي او منلي اديب نړۍليد په کې توضيح شوی دی، د هر ليکوال، اديب او مفکر د افکارو د روښانتيا او د هغه څخه د سمې ګټنې په موخه لومړی بايد د هغه د نړۍليد برخه روښانه شي، که موږ د يو مفکر په نړۍليد ونه پوهېږو، د هغه د افکارو مرکزي خوا نه شو جوتولی او پر دې نه پوهېږو، چې نوموړی د کائيناتو يا هستۍ د پيدائښت په هکله د کومې عقيدې، فکر او باور خاوند دی او د انساني ژوند لپاره کوم نظر او فکر ورته د منلو وړ ښکاري، نو لازمه ده، چې لومړی د هر ليکوال، اديب، مفکر او د نظر خاوند د خپل نړۍليد په مظهر کې وپېژنو او بيا يې د افکارو په خپرولو کې برخه واخلو، د دې موضوع موخه همدا ده، چې د پښتو ادب د نوموتو معاصرينو له ډلې څخه د استاذ الفت د نړۍليد برخه د ده په افکار کې ومومو، د څېړنې پوښتنه دا ده، چې ايا د استاذ الفت په آثارو کې د هغه د نړۍليد په برخه کې افکار او نظريات موندلی شو که نه، چې دغه څېړنه دې برخې ته تر ډېره ځواب ويونکې ده او که څوك وغواړي، چې د استاذ الفت په نړۍليد وپوهېږي، نو د دې څېړنې شننه او موندنې به يې دغه پوښتنه تر ډېره حده پورې ځواب کړي.

د څېړنې د شاليد په برخه کې د يادونې وړ ده، چې د اروابناد استاذ الفت د پېژندنې او د هغه د آثارو په راټولونه او د ځينو برخو په سپړنه کې يې ما دغه آثار تر نظره تېر کړي،

چې لومړی کتاب د استاذ الفت نثري کليات، د محمد اسماعيل يون په زيار ترتيب شوی، دانش خپرندويه ټولنې په ۱۳۷٦ کال کې چاپ او خپور کړی دی، د خپرندويه ټولنې يادښت او ورسره د محمد اسماعيل يون هر اړخيزه سريزه، چې په کې د استاذ ټول ليکلي اثار معرفي شوي او د هغه پېژندنه په پوره ډول شوې ليکل شوې ده، دويم اثر د الفت مرغلرې (شعري کليات)، د شهرت ننګيال په زيار ترتيب شوی، دانش کتابخانې پېښور کې ۱۳۷۵ کال کې چاپ کړی دی، شهرت ننګيال پرې سريزه ليکلې او ورپسې داستاذ الفت شعرونه په ترتيب سره را اخيستل شوي دي، دريم اثر د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش، د استاذ ګل پاچا الفت په قلم ليکل شوی، چې تر مړينې وروسته يې زوی عزيزالرحمن الفت چاپ کړی دی او سريزه يې هم پرې ليکلې، په دې کتاب کې مختلف موضوعات د اسلام او ټولنې په هکله څېړل شوي دي، چې د استاذ د نړۍليد په برخه کې هم د ده د افکارو لومړني لاس معلومات موږ ته په لاس راکولی شي، څلورم کتاب د استاذ ګل پاچا الفت د شعرونو منځپانګيزه او جوليزه څېړنه، چې پوهيالی سيد اصغر هاشمي ليکلې ده، دانش خپرندويه ټولنې په ۱۳۹۴ کال چاپ او خپور کړی دی، په دې کتاب کې د استاذ ګل پاچا الفت پېژندنه، د هغه د شعرونو منځپانګه، په شعرونو کې يې پيدا ګوڼيکي نظرونه، د هيواد د وروسته‌پاتې‌والي لاملونه او د شعرونو جوليز جوړښت تر بحث لاندې نيول شوي دي، پنځم کتاب د ګل پاچا الفت د نثرونو معناييزه او بڼه‌ييزه څېړنه، هم پوهيالی سيد اصغر هاشمي ليکلې ده، هاشمي خپرندويه ټولنې په ۱۳۹٦ کال چاپ او خپور کړی دی، په دې کتاب کې د استاذ الفت پېژندنه، د الفت د هنري نثرونو منځپانګه، ټولنيز او د برابرۍ ليکوال، په هنري نثرونو کې يې ارواپوهنيز څرکونه، د هيواد د پرمختګ فکر، د ويښو زلميانو اهداف او بڼه‌ييز جوړښت تر بحث او څېړنې لاندې نيول شوي دي، مګر په ځانګړي بڼه د استاذ د نړۍليد په هکله دا لومړنۍ هڅه ده او په دې هکله مخکې کومه څېړنه نه ده شوې.

د څېړنې موندنه دا ده، چې د پښتو ادب د پنځو نوموتو ستورو څخه د يو نوموتي او ځلانده ستوري استاذ الفت په نړۍليد يعنې د هستۍ په هکله د هغه د باور او عقيدې په هکله لوستونکي آګاه کېږي او تر څنګ يې د هغه د افکارو په آر محور موندلو سره د هغه د فکر په نورو خواوو د شننې مسير موندلای شي، هر کله چې يو ليکوال د يو څرکند نړۍليد خاوند وي، لوستونکي يې د پنځونو په سپړنه په آسانۍ سره د هغه د افکارو له موخو پردې پورته کولی شي.

### د څېړنې کړنلار

دغه څېړنه د کتابتوني ډول او تشريحي کړنلارې په اساس ترسره شوې، د څېړنې د موادو د موندلو په هکله کوښښ شوی، چې لومړني مطالب ومومندل شي او بيا تر شننې وروسته په تحليلي ډول راوړل شوي دي.

**اروابناد استاذ ګل پاچا الفت**

افغانستان د جغرافيوي ويش په اساس په خپله هره برخه کې ځانګړي بارز مشخصات او ځانګړنې لري، ختيځ زون له پيړيو را په دېخوا د علم، ادب، فرهنګ، سياست او وينبتابه کور ګڼل کېږي، بيا په ختيځ کې لغمان په ځانګړي توګه د علم و معرفت ځاله ګڼل کېږي، کله چې استاذ خليل الله خليلي په عراق کې افغان سفير و، هلته يې د (الفقهاؤ المغانيون فی البغداد) يا (لغماني فقهاء په بغداد کې) يوه څېړنه سرته رسولې ده، چې په دې سره د دې سيمې د خلکو د علم او پوهې سره د مينې او علاقه‌مندی يوغوره لاسوند وړاندې شوی، دغه کتاب په دې وروستيو کې په مصر کې د افغان سفارت فرهنګي برخې چاپ کړی دی او پښتو ژباړه يې د پوهنمل جنيدالله ظهير له خوا شوې ده، د کتاب ليکوال استاذ خليل الله خليلي په دې هکله ليکي، ژباړه: «لمغانيان د علماوو او فقهاوو يوه کورنۍ ده، چې په شپږمه هجري پيړۍ کې له افغانستان څخه بغداد ته راغلي، هلته يې کابو يوه پيړۍ د قضا او تدريس چارې سرته رسولي او بيا همالته د علم او فضيلت په ځانګو بغداد کې تر هغې پاتې شول، چې ترڅو يې روحونه څيښتن تعالی ته تسليم او د الخزرانيه په مقبره کې د امام اعظم ابو حنيفه رح په څنګ کې خاورو ته وسپارل شول» (ظهير، ۲۰۱۷: ۱۳).

اروابناد خليلي يې پېژندنې له همدې شناختو او نورو اثارو څخه رانقل کړې دي. دا او دې ورته نورې بېلګې دا ښکاره کوي، چې د دې سيمې خلک د علم او پوهې سره ژورې اړيکې پالي او دا کار د يو ديني فريضې او اړين رسالت په توګه سرته رسوي.

د همدې سيمې په لمنه کې يو بل ګل هم غوړېدلی، چې هغه اروابناد استاذ ګل پاچا الفت دی، نوموړی په ۱۲۸۸ هـ ش کال- ۱۹۰۹- ع کال د لغمان ولايت د قرغيو ولسوالۍ په عزيزخان کڅ کې د منصور کلي کې د سيد فقيرپاچا د زوی مير سيد پاچا په کور کې دنيا ته سترګې غړولې دي، په همدې چاپېريال کې ستر شوی، د يو ستر ليکوال په توګه يې د خپلې ټولنې د وينبتابه کوښښ کړی او په دې برخه کې يې د زړه په وينو د خپل رسالت قلم پاللی او په حرکت يې راوستی دی، ټولنې ته يې د ريښتنولۍ، اخلاص او ورولۍ درس ورکړی او د انساني پرمختګونو په موخه يې خپل خلک پوهې او هنر ته را بللي دي.

د خپل وخت په مسلطو شرائیطو کې یې د شته ناخوالو څخه پردې پورته کړي او د اصلاحاتو ناره یې ژوندۍ ساتلې ده، په همدې موخه استاذ په ځینو مستعارو نومونو، لکه: (ظریف افغان، کجوروال، علاقمند، محتاج، ستمدیده، نوآموز، نادار، ارزومند، نکته رس، نکته دان، منتظر، مشاهد، حق بین، منصف، لغت دان، دلسوز، امنیت خواه، دقت پسند، ملتفت، قانوني، خپل، بې زړه او پارلماني وکیل) هم مختلفې لیکنې کړي دي(یون، ۱۳۸۷: ۱۳).

شعرپوهان او ادبپوهان د فن د اغېزمن کېدو لپاره د فنکار پاک نفسي او ریاضت اساس ګڼي، کله چې د فنکار باطن د تقدس له رڼا برخمن شي، کلام یې په نورو زړونو داغېزمنتیا ځواک ومومي او شعري کلام خو د انسان د اندروني یا داخلي جذباتو او کیفیاتو د اظهار ژبه ګڼله شوې، د لیکوال او ادیب لیکنې او شعرونه په یوه خوله د هغه د داخلي رجحاناتو، تمایلاتو، فکري او تخیلي ځواکمنتیاوو انځور وړاندې کوي، انسان چې د خپلې داخلي تربیې په پایله کې کوم کیف او خیرکثیر مومي، ښایي د بهرنۍ ټولې نړۍ په جوړولو کې یې ونه مومي، ځکه خو حکمت ته خیرکثیر ویل شوی او حکیمان هغه خلک دي، چې په خپلو نفسونو برلاسي او د ریاضت او تقدس خاوندان وي، ارواښاد الفت، چې شعر او نثر یې د ده د ځانګړي اسلوب او سبک ښودنه کوي، د ده په داخلي تقدس د ګواهۍ په ژبه ګویان دي، الفت که ټولنه نقدوي او که نظام نقدوي وجه یې دا ده، چې د دوی خامۍ یې درک کړي او دی مجبور دی، چې د خپل ویښ ضمیر په اساس دغسې مسایلو ته انعکاس ورکړي او دا ټول د خپل مطلوب اسلامي فکر د تطبیق لپاره، چې هغه د ټولنې او نظام ښهوالی او سالم پرمختګ دی تر سره کوي، د الفت انتقاد په ډېر لوړ ادبي چوکاټ او ترتیب کې ترسره شوی، ځکه خو د پوهاند استاذ فضل ولي ناګار غوندې د ادب او فن مسلکي یې د تنقید فن کې د ځای ناستي په نه شتون داسې معترف کړی، چې:

وخـــــــت په فن د تنقـــــــــید کچ ایښی ناګاره!
بې ((باچا)) تـــــــــــــــشه دعوه ورته ښکاریږي

(نایل، ۱۳۸۰:

۱۲۰)

### د استاذ الفت زده کړې

د استاذ د زده کړو په هکله ارواښاد بختاني خدمتګار صاحب په دري ژبه لیکي: «استاذ الفت در اغوش ګرم فامیل روحانی اش با تلقینات دینی جان ګرفت. درس اولیه را در انجا اموخت، سپس به مساجد و مدارس روی اورد، در لغمان، ننګرهار و پروان نزد استاذان مشهور زانو زد و علوم متداوله دینی را بزبان عربی فرا ګرفت، با مایه علمي رو به دوایر

فرهنگي كشور اورد و با پيگيری تا واپسين روزگار زنده گی درپرتو [ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ(البقره ـ۱)] و [ نٓ ۚ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ (القلم-۱)] با كتاب و قلم سر وكار داشت»(هاشمي، ۱۳۷۵: ۱۴).

ژباړه: «استاذ الفت د خپلې روحاني کورنۍ په ګرمه غېږه کې د ديني زده کړو سره ځان وموند، لومړنۍ زده کړې يې همالته وکړې، وروسته مساجدو او مدارسو ته ولاړ، په لغمان، ننګرهار او پروان کې يې مشهورو استاذانو ته ګونډه ووهله او مروج ديني علوم يې په عربي ژبه ترلاسه کړل، د علمي تومنې په درلودو سره يې د هېواد فرهنګي مرکزونو ته مخه وکړه، د ژوند تر وروستيو شېبو يې په تعقيب سره د [ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ (البقره -۱)] او [ نٓ ۚ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ (القلم -۱)]د کتاب او قلم سره سر او کار درلود».

**د استاذ الفت  اثار**

د استاذ الفت  اثار په لومړي سر کې په دوو عمده ځانګو ويشل کيږي، چې هغه منظوم او منثور دي. منظوم اثار يې عبارت دي له: د پسرلي نغمه، ښه لمسون، عالي افکار، د آزادۍ پيغام، غوره اشعار، د زړه وينا؛ د استاذ منظوم اثار په شکلي لحاظ په غزل، قصيدې، رباعي، مثنوي او نورو تقليدي فورمونو کې ويل شوي دي، د پښتو ملي او اصيلو فورمونو کې هم ځيني اشعار لري، په موضوعي لحاظ د استاذ اشعار اجتماعي، ملي، وطني، ديني او انتقادي خواوې لري، د مينې سندرې يې هم کله کله ويلي، د عرفان او تصوف تارونه يې هم چېړلي خو ډير تمرکز په فکر او فکر ليږدولو کوي. منثور آثار يې عبارت دي له: بله ډيوه، نوی سبک او نوی ادب، غوره نثرونه، په همدې ډول د استاذ څېړنيز او د ژباړې آثار عبارت دي له: لغوي څېړنه، څه ليک يا ليک پوهه، املا او انشاء، ليکوالي، پښتو سندرې، د پښتانه شعرا په ليکلو کې برخه اخيستنه، ملي قهرمان، منطق، د ټولنې په جوړښت کې د اسلام  نقش، لوړ خيالونه او ژور فکرونه، د ټولنې علم، احمدشاه بابا افغان ژباړه او لنډيز، د موفقيت لاره(ژباړه)، درسي آثار يې عبارت دي، له: پښتو کلي پنځم جلد- لومړی ټوک، د پښتو کلي پنځم جلد- دويم ټوک او نورې خورې ورې مقالې او څېړنې چې دلته يې يادونه د موضوع د غځېدا سبب ګرځي.

**نړۍليد (جهانبيني)**

د کائيناتو يا هستۍ د خلقت او پيدايښت په هکله د باور او عقيدې برخې ته نړۍليد يا جهانبيني ويل کيږي، چې دا د هر انسان په ژوند کې اساسي برخه ده، په ځانګړې توګه د هغو انسانانو په ژوند کې ډېره د پام وړ ده، چې د ټولنې د لارښوونې په برخه کې کار کوي، افکار لري، ليکنې او آثار لري، د ټولنې مشري او سياسي حرکتونه لري، د دغسې شخصيتونو په مطالعه کولو کې لومړنۍ اساسي برخه د هغوی د نړۍليد پېژندنه ده، که د

باور له مخې يو څوک کمونيسست يا ماده‌پال وي او دی په ټولنه کې کار کوي، خپل افکار شريکوي، ليکنې کوي، وېناوې کوي او دغسې نورې برخې چې د ټولنيزو چارو پورې اړونديږي، دی به خامخا د خپل کمونيستي فکر په دايره کې واقع وي او ټولنه به همدې دايرې ته رابلي، بناءً د هرې ټولنې د مفکرينو، اديبانو، سياستوالو او ليکوالو په پېژندنه کې تر هر څه دمخه د هغوی په نړۍ‌ليد پوهېدل اړين او لازمي دي.

اريانا دايرة المعارف د نړۍ‌ليد تعريف داسې کړی: نړۍ‌ليد يا جهان‌بيني له دوو کلمو څخه جوړه شوې ده، يوه يې نړۍ او بله ليد ده. دا کلمه د طرحې جوړولو، ګوند، يا سياسي ډلې ته د يو پلان جوړولو په معنا هم راځي. نړۍ‌ليد د نړۍ، طبيعت او ټولنې په اړه د يو وګړي، يو شمېر خلکو او يا د يو ګروپ د نظرياتو بيانولو لپاره په کارېږي(دايرة المعارف، ۱۳۹۷: ۷۴).

د نړۍ‌ليد يا جهان‌بينۍ د موضوع په هکله ښاغلی عبدالعزيز نعماني ليکي: «موضوع جهان‌بينی شناخت و مباحثه در باره خدا، انسان و کائينات است، در جهان‌بينی‌ها گاهی به صورت تک‌فردی گاهی به صورت مقايسه‌وی نکات موصوف محراق توجه گفتمان قرار می گيرند و راه درست از خطا آشکار گريده انسآنها ی محقق و متفحص بتوانند با دلايل قوی و واضح مسير حقانيت را از انحراف و کج‌انديشی‌ها باز شناخته و به اهداف آفرينش خويش به راحتی فايق آيند»(نعمانی، ۱۳۹۵: ۱۵).

ژباړه: « د نړۍ‌ليد موضوع د خدای، انسان او کائيناتو پېژندنه او په هکله يې مباحثه ده، په نړۍ ليدونو کې کله په فردي توګه او کله هم په مقايسوي توګه، دغه برخې د بحث تمرکز ګرځي او د پاملرنې په محراق کې واقع کېږي، چې له خطاو څخه ژغورلې سمه لاره، څېړونکو او پلټونکو انسانانو ته په لاس ورکوي، چې په څرګندو دلايلو د حقانيت مسير روښانه کړي او د هر ډول انحراف څخه مخنيوی وکړي، چې په آسانۍ سره پرې خپلو موخو ته ورسيږي».

نړۍ‌ليد د خپلو ډولونو پر اساس پر بېلابېلو ډولونو وېشل شوی، د محتوی په لحاظ نړۍ‌ليد په دوو برخو: الهی او مادي وېشل کېږي. د ميتودلوژيک روش په اساس په څلورو ډولونو: علمي نړۍ‌ليد، ديني نړۍ‌ليد، فلسفي نړۍ‌ليد او عرفاني نړۍ‌ليد وېشل کېږي او د هستۍ د عالم په هکله د نظرونو د تفاوت په اساس په تجربي نړليد، فلسفي نړۍ‌ليد او ديني نړۍ‌ليد وېشل شوی دی.

په دې څېړنه کې د استاذ الفت په افکارو کې د هغه د نړۍ‌ليد څرکونه په ګوته شوي دي، چې نوموړی د ديني اسلامي نړۍ‌ليد په درلودلو سره د خپل استدلال او فکري قوت

په ملتیا خپل نظریات وړاندې کوي او د بشري ټولنې د بشپړتیا او نجات په موخه خپل تحلیلونه او شنني لوستونکو سره شریکوي.

**د کائیناتو د پیدایښت په هکله د استاذ نظر**

استاذ ګل پاچا الفت د افغاني مسلمانې ټولنې په غېږ کې ستر شوی، مروجه علوم یې له مسجد پیل او په مدرسو پای ته رسولي او عالم دین فارغ شوی دی، د خدای ورکړې استعداد او نبوغ په درلودو یې خپل افکار طرحه کړي او د کائیناتو په مطالعه او مشاهده کې یې د حقیقت له مخې د نقابونو لرې کولو پسې د فکر کولو او تفکر لاره نیولې ده، د دین غوښتنه هم له مسلمان همدا ده، چې د کائیناتو په خلقت او رموزو ځان پوی کړي، لکه په قرآن کریم کې چې الله تعالی فرمايي:

الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ (ال عمران ۱۹۱ ایت).

ژباړه: «دغه (عاقلان) هغه کسان چې یادوي الله په ولاړې او په ناستې او په اړخونو خپلو (چې پراته وي) او فکر کوي دوی په پیدایښت د آسمانونو او ځمکې (او د مافیها) کې، (نو وايي) ای ربه زمونږ! نه دي پیدا کړي تا دا مخلوقات عبث (بې حکمته) پاکي ده تا لره له (ټولو عیبونو) نو وساته موږ له عذابه د اور د دوزخ (افغانستان علماو هیئت، ن، ۲۲۲-۲۲۳).

د قران کریم دا او دې ورته ډېرو نورو لارښوونو ته په کتو دا جوتېږي، چې په مخلوقاتو کې د فکر کولو لپاره انسان مکلف ګرځول شوی او همدا لاره ده، چې د بصیرت خاوندان په کې د خپل رب د قدرت او وحدانیت نخښې موندلای شي.

استاذ یو له دغسې مفکرینو څخه شمېرل کېږي، چې د خلقت په رموزو او د انساني ژوند په تکامل یې فکر او هر اړخیز کار ترسره کړی، ارواښاد څېړنوال عبدالرحیم بختانی د الفت صاحب په هکله لیکي: «استاذ ګل پاچا الفت د افغانستان په معاصرو شاعرانو او ادیبانو کې د خپلو دیني، ادبي، انتقادي، علمي، حقوقي، تاریخي، ټولنیزو او څېړنیزو لیکنو په څنګ کې سیاسي لیکنې هم لري او د هیواد په سیاسې بهیر کې یې فعال او مثبت دریځ او نظر درلود» (فاضل، ۲۰۱۹: ۴۰۷).

د استاذ الفت د اثارو تر لوستنې وروسته جوتېږي، چې استاذ په کائیناتو کې د ژور فکر لرونکي عارف په توګه خپل نظریات مطرح کړي دي، که هغه د نظم په برخه کې ده او که د نثر او څېړنیزو لیکنو په برخه کې، ټول د استاذ د نړۍلید په محور څرخېدلي مفاهیم منعکسوي، د استاذ د یو لوی عارفانه شعر یو څو بیتونه ګورو، چې:

کائیناتو کې دی پروت ښه انتظام
سنجیده دي د تقدیر واړه احکام
(ننګیال، ۱۳۷۵:۱۷۳)

په کائیناتو کې د نظم موجودیت او د تقدیر ټاکلو څواک په دې دلالت کوي، چې دغه مخلوقات ټول د یو ناظم له خوا په یو خاص نظم او ترتیب سره برابر خلق کړل شوي دي، دا دومره لوی عالم بې معنا او بې هدفه نه دی پیدا کړل شوی، د هرې منظمې برنامې د ترسره کولو خپله موخه وي، چې په نظم سره ترسره شي او موخه پرې ترلاسه شي، په کائیناتو کې د نظم موجودیت یو خورا ستر بحث دی، چې قران کریم هم ورته ځای ځای اشارې کړي او همدې برخې ډېری ساینس پوهان او څېړونکي د اسلام عظمت ته منقاد کړي دي او مسسلمانان شوي دي، استاذ هم د خپلو مشاهدو په پایله کې دا اعتراف کوي، چې د کائیناتو ټولې چارې تر خاص نظم او ترتیب لاندې پرمخ وړل کېږي او انسان باید دې برخې ته ځیر شي، چې دا هرڅه د څه لپاره دي!

د کائیناتو د پېژندنې بحث په اسلامي نړۍلید کې د الله تعالی وحدانیت ته رسېږي او د مخلوقات د رامنځته کېدو ترشا یوازې الهي خالقانه قدرت د اعتبار وړ ګڼي، دغه چار تر ډېره د عرفان سره هم اړیکه مومي، چې ځای ځای د استاذ په شعر کې دغه بحثونه رانغاړل شوي دي، لکه چې وايي:

خدایه! تا نه شـــــي پېژندی زموږ قلیل علم
دا په علـــــــت معلول ولاړ زموږ علیل علم
ستا معرفـــــــت ته د بشر عقل رسېږي کله
د انساني فکر لبــــــاس په تا جوړېږي کله
اهل عرفان په تضـــــــرع «ماعرفناك» وايي
موږ هغه حمد کله ویلی شو چې تاته ښايي

(ننګیال، ۱۳۷۵:۲۵۰)

پورتنیو بیتونو کې د استاذ د عارفانه فکر څرکونه له ورایه کتلی شو، استاذ د انساني فکر هغه ضعف ته اشاره کوي، چې د خپل رب دلیدلو توانایي نه لري، په همدې اساس انساني فکر قلیل او په علت معلول دی، چې د معرفت نهایت ته د انساني عقل او محسوساتو توانایي نه رسېږي، د اسلامي عقیدې حکم هم دا دی، چې د الله تعالی په ذات کې نه بلکې په قدرتونو یې فکر وکړئ، نو ځکه خو زموږ ستر عارف شاعر او ادیب په دې معترف دی، چې موږ هغه حمد ثنا او صفت کله ویلی شو، چې د متعال رب د شان سره

برابر دی، خو تر خپلې وسې به خپله خبره کوو، د دغو بیتونو په تشبیهاتو کې د الله تعالی لویوالي او د بشر د علم او عقل د کمزوریو برخو ته اشارې دي او دا د اسلامي نړۍلید د عارفانه بحثونو اساسي محورونه جوړوي، چې دغه برخه کې د استاذ په منظوم او منثور کلام کې ډېرې بېلګې شته او لوستونکي په کې دا څرګونه درک کولی شي.

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت په هکله د استاذ نظر**

په اسلامي نړۍلید کې د الله تعالی په وحدانیت باندې باور او عقیدې څخه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت منل او په هغه باندې باور کول دي، د استاذ منظومو بېلګو ته که لوستونکي سر ورښکاره کړي، نو وبه مومي، چې اروښاد الفت عاشق رسول هم دی، لاندې بیتونه یې لولو:

توره تـــــــیاره وه انسان ورک خپلو وهمونو کې و
شعـــــــــــــور او فکر د تورتم په زندانونو کې و
د عقل ستـــــــــــرګې یې ړندې وې لار یې نه لیدله
خدای تریـــــــــنه ورک د طبیعت په طوفانونو کې و
راغی جهان ته محمد ص چې وران جهان جوړ کړي
چې جوړونکـــــــــی د جهان یعنې انسان جوړ کړي

(ننګیال، ۱۳۷۵: ۳۷۸)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت په هکله استاذ یو لوی نظم لري، چې دلته یې درې بیتونه انتخاب شوي دي، چې په کلي ډول د بشر د ژوندانه حالت مخکې د رسالت او وروسته د رسالت څخه انځوروي، بشر له رسالت څخه مخکې د رب پېژندنې له خلا سره مخ و، چا د بتانو عبادت کاوه، چا لمر خپل خدای ګاڼه، چا د سپوږمۍ بنده ګي کوله او دغسې په ګمراهیو کې اخته ول، په دویم بیت کې استاذ یو لوی بحث ډېر را خلاصه کړی، د طبیعت ګرایانو یا ماده پالو عقیده په اوسنیو شرایطو کې هم همدغسې ده، چې دا هرڅه د طبیعت زیږنده بولي او د ماده پالو څخه د الله تعالی د وحدانیت راز ورک دی، د کائیناتو د خلقت په هکله د ماده پالو ټول نظریات وخت په وخت تغیر سره مخ دي، که د داروین د تکامل نظریه وه او که نورې نظریې دي د وخت په تېرېدو یې خامۍ څرګندې شوي دي او لارویو یې ترې مخ ګرځولی، په دې برخه کې هر عقل مند او برلاسی څېړونکی د قران کریم اعجاز مني او د کائیناتو د خلقت په هکله د واحد ذات قدرت ته منقاد کېږي، په کائیناتو کې څېړنه او تفکر د دین غوښتنه ده او حکمت یې دا دی، چې د الله تعالی د قدرت رازونه په کې نغښتي دي.استاذ وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو د

حقيقي رب د پېژندنې درس ورکړ او له تورتمونو يې وژغورل، پای کې د ټول رسالت خلاصه وړاندې کوي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کار دا و، چې وران جهان جوړ کړي او د دې کار لپاره د انسان جوړول لازم دي، کله چې انسان جوړ شو، بشري کرامتونه يې و پېژندل، د واحد رب اطاعت يې ومانه او د علم و معرفت رڼاگانو پسې ولاړ، نو هم د بشر مادي ژوند تکامل مومي او هم معنوي ژوند، د اسلام اساسي غوښتنه له انسان څخه همدا ده، چې انسان خپل کرامت وپېژني او د هغه حفاظت وکړي.

استاذ د هر ډول حق او حقيقت موندنې اساس په قران کريم کې گوري او د اسلامي نړۍليد اساسي محور هم همدا الهي کلام دی، دی چې د ټولنې د لارښوونې په موخه د خپل سوچ او فکر خبره راټولوي، نو مخاطب ته داسې په زمزمو وي، چې:

د پلار نیــکه په قدم مه ځه حقيقت پسې ځه
هغه دود پرېږده، چې حکمونه د قرآن ماتوي

(ننگيال، ۱۳۷۵: ۲۲۴)

پورتني بيت کې استاذ د ژوند د تگلارې په توگه يوازې الهي کلام قران عظيم الشان د انساني ژوند قانون گڼي، دلته د ټولنې د کلتور او فرهنگ خبره هم مطرح کوي، چې که چېرې کلتوري مسايلو او رواجونو دين سره ټکر درلود، نو دين ته بايد اولويت ورکړل شي، عربي ټولنه کې د دين د خپرېدو د مخنيوي يو ستر خنډ همدا و، چې د دين دعوت به ځينو ته ورکړل شو، نو وبه يې ويل زموږ د پلرونو رواج دا ډول نه و، دغه مسئله په افغاني ټولنه کې هم ورته بڼه درلوده، زموږ خلک تراوسه پورې د خپل پخواني کلتور په ساتنې ټينگار کوي، نيک مرغي دا ده، چې د دين سره د افغاني دودونو ډېر ټکر نه شته، که کومو برخو کې شته هم نو استاذ د دين احکامو ته په کتو خپل خلک دقران پيروی ته رابلي، چې دا د اسلامي نړۍليد د تطبيق په برخه کې د ياد نړۍليد يوه اساسي ځانگړنه جوړوي، چې د انساني ټولنو هغه کلتوري مسايل چې دين سره ټکر لري، بايد پرېښودل شي.

**د انساني ټولنې د رهبري کولو په هکله د استاذ نظر**

د نړۍليد په تعريفو کې مو ولوستل، چې يوه مشخصه او ځانگړتيا د نړۍليد داده، چې د بشر د ژوند ټولې چارې د يو قانون له مخې رهبري کړي او د ژوند په ټولو امورو کې شامل اصول او مقررات ولري، دغه مقررات بايد داسې وي، چې د بشر ژوند تضمين کړي او د هر اړخيز تکامل سبب يې وگرځي، ارواښاد استاذ الفت په خپل يو څېړنيز اثر(د ټولنې جوړښت کې د اسلام نقش) کې دغه برخه په ډېر ښه ډول توضيح کړې او مختلفې خواوې يې تر بحث لاندې نيولي دي، استاذ د دې هر اړخيزې او علمي څېړنې په پای کې د بشري

ټولنې د رهبري کولو په موخه خپل نظر داسې ليکلی: « د اسلام ژوره، باريکه او صحيحه مطالعه چې اجتهادي پوهه هم ورسره ملګرې وي، ډاډ راکوي، چې اسلام په هر وخت کې د عصر له احتياجاتو سره مناسب احکام وضع کولای شي او يوازې د اسلام اجتماعي عدالت دا استعداد او ظرفيت لري، چې بشري سعادت تأمين کړي او بس»(الفت, ۱۳۸۴: ۲۰۳).

د استاذ له دې نظريې په جوت ډول د ده نړۍليد څرګندېږي، چې يوازې د اسلام اجتماعي عدالت دا استعداد او ظرفيت لري، چې بشري سعادت تأمين کړي او بس، د دې دعوې تر څنګ معلومېږي، چې ارواښاد استاذ د نورو اېزمونو او جهانبينيو څخه هم مطالعه لرله او د هغوی قوانين يې هم تر کتنې لاندې نيولي و، د بشري ژوند د سعادت او نيکمرغۍ تکامل د اسلامي نړۍليد په بشپړ تطبيق پورې غوټه دی، څو چې نننی ماده پال بشريت، دې برخې ته منقاد نه شي، د ژوند له کړاونو د خلاصون لاره نه شي موندلای. استاذ د اسلامي عدالت د تأمين په برخه کې د اجتهاد په پوهې او د وخت اړتياو ته په کتو، ډېر ټينګار کړی او د اسلام يو ستر اعجاز هم دا دی، چې د بشري ژوند د روان پرمختګ او ساينس هرې برخې ته خپل احکام لري او د انساني څېړنو موندنې وخت په وخت د دين د حقانيت د جوتېدو سبب ګرځېدلې دي، نه دا چې د دين سره په ټکر کې واقع شوي اوسي، د بېلګې په توګه دين د خنزير او ځينو نورو ځناورو غوښه حرامه ګرځولې، د ساينس ننني موندنو ښودلې، چې د دغو حرامو ځناورو غوښې د بشر ژوند او روغتيا له منځه وړي، دغه راز د سودي کاروبارونو زيانونه، چې نننۍ نړۍ ترې کړېږي، دغسې بې شمېره ديني احکام ګورو، چې د بشر د نني پرمختللي ژوند اړتيا هم ده، د تېرو پنځلسو پېړيو مخکنيو انسانانو اړتيا هم وه او د بشر د ژوند راتلونکی به هم د دين ارشاداتو ته اړمنه وي، خو دا په داسې فهم سره چې د اسلام څخه د وخت د اړتياو سره سم اجتهادي پوهه د اسلامي نړۍليد خاوندانو سره موجوده وي او بشري ټولنه پرې د سعادت، وقار او عظمت په درلودلو سره رهبري کړي، موږ ګورو کومو انساني ټولنو کې چې يوازې په مادي افکارو ولاړو نړۍ ليدونو په اساس انساني چارې سمبالېږي، انسانان په کې له وقار او انساني کرامتونو را غورزيدلي دي او د انسان او حيوان توپير په کې ورک شوی دی، ماده پالې مفکورې، د بشر د سعادت او وقار نه شي تضمينولی او نني ماده پال انسانان په يو سخت روحي کړاو کې د ژوند شپې او ورځې سبا کوي، دا چې د اسلامي نړۍليد په تطبيق کې هم د انسان مادي او هم معنوي خوا بشپړوالی مومي، همدا ځای دی، چې د بشري ټولنې د تکامل اړتيا ورته محسوسه ده او د بشري ژوند د تکامل لپاره د دې الهي قانون تطبيق ته هر اړخيز کار په کار دی.

په دې برخه کې د استاذ په منظومو او منثورو آثارو او څرګندونو کې ډېرې داسې بېلګې شته، چې باید د هغه د نړۍلید د توضیح په موخه پرې بحث وشي، لکه د اسلامي ټولنې لپاره د یووالي او اتفاق ستاینه او د قومپالنې غندنه، د رشوت او روشتخور مخالفت، په ظالمانو انتقادونه، د ریاکارو غندنه، د بې رحمو سره نفرت، د بې‌همتی او تنبلی مخالفت، د غلطو دودونو مخالفت او نور موضوعات چې په ټولیز ډول د مرکزي موضوع چې هغه د استاذ اسلامي نړۍلید ده، په محور څرخېدلي موضوعات دي او د همدې بحث خواره واره مبحثونه وړاندې کوي، چې دلته د مقالې د اوږدېدو په موخه باید په مشت نمونه خروار بحث باندې قناعت وکړو، د بېلګې په توګه د یووالي او اتحاد په هکله استاذ په خپله یوه فارسي ادبي ټوټه کې لیکي: «تغیر رنګ را نباید تغییر جنس دانست. برنج از لغمان باشد یا از بغلان پلو باشد یا چلو رنګ و ذایقه ان کمی تفاوت خواهد داشت، مګر در برنج بودن ان شکی نیست(هاشمي، ۱۳۹۴:۱٦٦).

استاذ وایي: د رنګ تغیر باید د جنس تغیر ونه بولو، که وریجې د لغمان وي که د بغلان پلو وي که چلو رنګ او خوند به یې لږ توپیر ولري خو دواړه وریجې ګڼل کېږي.

یا همدا مفهوم په لاندې بیتونو کې:

بزرګي خو نېـــک عمل زهد و تقوی ده
هســـــــــې نه چې په نژاد نسب بنا ده
اوس چې چا نســـــب نژاد پورې تړلی
نژادي توپیـــــــــــر یې ښه سمه معنی ده

(هاشمي، ۱۳۹۴:۱٦۷)

بزرګي معنی لویوالی او ارزښتمندي، چې استاذ یې په تقوی او زهد کې ګڼي او همدا د دین مفهوم هم دی، الله تعالی فرمایي: يا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْناكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَ أُنْثي وَ جَعَلْناكُمْ شُعُوباً وَ قَبائِلَ لِتَعارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقاكُمْ (حجرات۱۳)، ای خلکو تاسو مو له یو مور وپلار څخه پیداکړئ، بیا مو په قومونو او قبائیلو وویشلی د دې لپاره چې یو بل وپېژنئ، په تاسو کې د اکرام او عزت خاوند د الله په وړاندې ستاسو تقوی لرونکي اشخاص دي، د نژاد او نسب بیل والی یو تر بل د پیژندنې لپاره دي، نه باید چې د تفوق لپاره و کارول شي، دغسې ورته ډېر موضوعات د استاذ په منظومو او منثورو پنځونو کې مومو چې د استاذ په مرکزي فکر یا نړۍلید پورې اړیکه مومي، چې مرجعیت یې قران کریم دی.

**د اغېزمن مسلمان‌مشر د جوړېدو په هکله د استاذ نظر**

د اسلامي نړۍليد د تطبيق لپاره تر ټولو نورو اړتیاو وړاندې د مشر او زعیم د جوړېدو برخه اړينه گڼل کېږي، اسلامي مشرتابه يا زعامت خپلې ځانگړتياوې لري، چې له مختلفو زاويو څخه کېدای شي تر بحث لاندې ونيول شي، د مشرتابه د ځانگړتياو ټولې خواوې، لکه پياوړی ايمان، زوړورتيا، پوهه، مېړنتوب، سخاوت، فقر، شهامت او نورې خواوې د خپل ځانگړي اهميت له مخې د پام وړ دي، خو استاذ الفت په دې ټولو برخو کې د مشرتابه لپاره د فقر او استغنی برخه ډېره د پام وړ گڼي او د مؤمنانو د راټولېدو او اغېزمنی مشرۍ لپاره يې د يو اړين شرط په توگه تر بحث لاندې نيسي، استاذ الفت د مشرتابه لپاره بېلگه رسول الله صلی الله علیه وسلم يادوي او بيا د هغه د فقر او استغنی برخه داسې تر بحث لاندې نيسي، چې: « د رسول الله صلی الله علیه وسلم کرم او سخاوت د کيفيت او کميت په لحاظ ساری نه لري او د خپلو خصوصياتو په وجه يې منحصر بفرد صفت گڼلای شو؛ بلکې ويلای شو، چې سخاوت نه و ايثار و، چې مقام او منزلت يې له سخاوت نه ډېر لوړ دی»(الفت، ۱۳۸۴: ۱۱۳).

همدارنگه د رسول الله صلی الله عیله وسلم د سخاوت په هکله ليکي، چې:
« هغه د رياضت او مشقت ژوند، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم درلوده، له حده زيات فقيرانه او غريبانه و... قرآني فلسفه د ډېر شخوند او د ډېر خوند ژوند مردود گڼي؛ ځکه مترفين او د ناز او نعمت خاوندان په مکرر او مؤکد ډول دين غندي او بد ورته وايي... هغه اسلامي ژوند چې الهي کتاب او نبوي سنت يې د مسلمانانو لپاره خوښوي، که مسلمان يې پر ځان باندې تطبيق کړي، طبقات له مينځه ځي او د غني او فقير مسئله په ښه شان حل کېږي... د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند عملي اړخ همدغه و، چې د دنيا مال يې لکه غليم خپل کور ته نه پرېښوده او نه يې په کور کې ځای ورکاوه... د حنين په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم صفوان بن اميه ته د پسونو دومره رمې وبخښلې چې يوه لويه دښته پرې ډکه شوه، په همدغه ورځ يې ابو سفيان ته څلوېښت اوقيې سپين زر او سل اوښان ورکړل، د هغه زامنو معاويه او يزيد او حکيم بن حزام ته يې هم سل سل اوښان وبخښل...»(الفت، ۱۳۸۴: ۱۱۳).

دغه د حنين د ورځې د سخا او بخښنې په هکله استاذ خپله خبره اوږدوي چې:« دغه شان نورو ډېرو کسانو لکه: نصر بن حارث، اسيد بن جاريه، حارث بن هشام، قيس بن عدی، سهبل بن عمر، خويطب بن عبدالعزی، اقرع بن حابس، عينيه بن حصن، مالک بن عوف، عباس بن مرداس، مخرمه بن نوفل، علاڅ بن حارثه، سعيد بن يربوع، عثمان بن وهب او هشام بن عمر ته په دغو بخششونو کې چا ته سل، چا ته پنځوس او چا ته څلوېښت اوښان ورسېدل او عباس ته خو يې دومره سره زر ورکړل، چې جگولای يې نه شول. په دې

دومره ډېرو مالونو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله کور ته هیڅ یو نه وړل او اهل بیتو دغه شپه په نهره تېره کړه»(الفت، ۱۳۸۴: ۱۱۳).

پورتني بحث ته په کتو د استاذ څېړنه د مسلمان مشر د جوړېدو په موخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سخاوت او ایثار کې د هغه د اسوةحسنه په راز پوهېدل دي او که څوک غواړي، چې د اسلامي نړۍلید د تطبیق لپاره د لومړي درجه مسؤل په توګه خدمت وکړي، نو دغسې ایثار او قرباني باید ولري.

دغه برخه استاذ داسې تحلیلوي، چې: « له خپل مال نه لږ څه نورو ته ورکول، یا له خپل حاجته زیات مال صدقه کول، جود او سخا بللای شو؛ مګر ځان محرومول، خپل ځان خوارول او نور مړول، بلکې غني کول، هماغه صفت دی، چې په قرآن مجید کې یې ستاینه شوې ده: وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ. حشر/۹»(الفت، ۱۳۸۴: ۱۱۳).

لکه علامه اقبال لاهوري چې هم ځای ځای د دغسې فقر د انتخاب ارزښت په شعري زمزمو کې رانغاړي چې:

فقر و شــــاهی، واردات مصطفی است
این تجلیــــهای ذات مــصطفی است
این دو قوت از وجود مـــــؤمن است
این قیام و آن سجود مـــــؤمن است
(شهرام، ۱۳۸۶: ۳۱۶)

پورتنیو مبحثونو د خلقت په هکله د استاذ نظر، د انساني ټولنې د رهبري کولو په هکله د استاذ نظر او د اغېزمن مسلمان مشر د جوړېدو په هکله د استاذ نظر او د استاذ په لیکنو، شعرونو او څېړنو کې نور بې شمېره اړخونه، چې دلته یې توضیح د موضوع د اوږدوالي باعث ګرځي ټول په کلي ډول د استاذ ګل پاچا الفت فکر او تحلیل د هغه د اسلامي نړۍلید په برخه کې روښانه کوي، د اسلامي نړۍلید بنسټیز مفهوم دا دی، چې په خپلو پیروانو کې د نفس تزکیه او تقوی پیدا کړي، د دنیا مال د ضرورت په اندازه مهم وګڼي او اصلي رسالت یې د الله تعالی رضا، اسلامي حاکمیت او د انسان او مسلمان د دنیا او اخرت جوړول دي.

**پایله**

دغه څېړنه چې د ارواښاد استاذ ګل پاچا الفت په افکارو کې د هغه د نړۍلید د موندنې په هکله ترسره شوې، په کې موندل شوي، چې استاذ هم په خپلو نظمي او شعري نوښتونو کې او هم په نثري او څېړنیزو اثارو کې د یو ځانګړي مفکر په مقام د خپلې نظریې او رایې

د شريكولو په برخه كې د ټولنې د جوړښت او هر اړخيز پرمختګ په موخه خپلې تجربې، مشاهدې او تحليلونه لري او افكارو يې د اسلامي نړۍلید په محور وسعت او پراختيا موندلې ده، استاذ د اسلام اجتماعي عدالت د بشريت د ژغورنې يوازينۍ لاره ګڼي او په دې برخه كې د وخت د غوښتنو سره سم د اسلام اجتهادي پوهې د غوړېدا توصيه كوي، چې همدغه برخه په مدللو بحثونو كې تر څېړنو او كتنو لاندې نيسي او په قرآني احكامو يې د مرجعيت ټينګ اساس وړاندې كوي، د څېړنې پايله دا راښايي، چې استاذ الفت د يو مسلمان مفكر په توګه د خپلې ټولنې او ټولې انساني ټولنې د نجات لپاره د اسلامي نړۍلید پيرو و او د استاذ د افكارو د پوهېدو لپاره د همدې محور په پام كې نيول د څېړونكو څېړنيزې چارې د هغه په فني او تحقيقي برخو كې آسانۍ سره مخ كوي او داخلي او بهرنيو څېړونكو ته د دغه افغان مفكر د افكارو په څېړلو كې د يو واحد محور كرښې پرې روښانه كېږي، لوستونكي كولاى شي، د استاذ د افكارو نورې خورې ورې برخې د هغه په خپلو آثارو كې ولولي او ومومي.

## اخځونه

القران الکريم

اکاډمي علوم افغانستان.(۱۳۹۷). **آريانا دائرة المعارف**.کابل: احمد طباعتي او صنعتي مطبعه.

الفت، ګل پاچا. (۱۳۸۴). **د ټولنې جوړښت کې د اسلام نقش**. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

رجب زاده، شهرام. (۱۳۸٦). **گزيده شعرهای اقبال لاهوری**. تهران: قدیانی چاپخانه.

ظهير، جنيدالله.(۲۰۱۷). **لغماني فقهاء په بغداد کې**. قاهره: د افغانستان اسلامي جمهوريت سفارت، فرهنګي څانګه.

فاضل، ولی الله. (۲۰۱۹). **نړۍ ادبيات**. ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

نايل، نجيب الله. (۱۳۸۰ هـ ل). **د ناګار شاعري**. جلال‌اباد: ناګار خپرندويه ټولنه.

نعمانی، عبدالعزیز. (۱۳۹۵). **جهان بينی اسلامی**. هرات: انتشارات قدس.

ننګيال، شهرت. (۱۳۷۵). **د الفت مرغلرې**. پېښور: دانش کتابخانه.

هاشمي، سيد اصغر. (۱۳۹٦). **د ګل پاچا الفت د شعرونو منځپانګيزه او جوليزه څېړنه**. کابل: دانش کتابخانه.

ـــــ. (۱۳۹٦). **د ګل پاچا الفت د نثرونو معناييزه او بڼه ايزه څېړنه**. جلال اباد: هاشمي خپرندويه.

يون، محمد اسماعيل. (۱۳۸۷). **د الفت نثري کليات**. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

د افغانستان علماو هئيت.(بی.تا).**کابلی تفسير**. مدينه منوره: د پاچا فهد چاپخانه.

# Analysing and Exploring his Worldview in the Works of Professor Gul Pacha Ulfat

Mohammad Hussain Miakhel[1], Sharifullah Mallal[2], Pashto Language and Literature Department, Faculty of Education, Farah Higher Education Institute.

**Email**: mh.miekhel@gmail.com

**Abstract**

This study is devoted to clarify the worldview of Professor Gul Pacha Ulfat in his works and thoughts. Professor Gul Pacha Ulfat is considered to be a famous thinker, politician and outstanding writer among the contemporary writers of Pashto language and literature. The worldview concepts revolve around the thoughts of every writer and songwriter. Worldview discusses one's beliefs about the creation of the world, and relates it to the ideas that one believes to guide human society. Without clarification of that part, the problem is that a writer, songwriter, and politician's purposes are not well-addressed. If the researchers have presented ideas and principles of special social life of the society of any such a person, his thoughts must be under analysis along with his worldview. The value of this topic is that it explores the worldview of a famous writer, songwriter and thinker. The purpose of the research is to clarify the worldview of Ulfat's thoughts along with the main axis of his art that can be mentioned to the readers as well. This study is based on the library and textual analysis. So that, Ulfat's worldview is found out in both his songs and prose. It is concluded that he had Islamic worldview, and he worked to spread and develop this view to the humanity.

**Keywords:** Professor Gul Pacha Ulfat, writer, Poet, thinker, worldview.